مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شهسوارسنگروال

۲۰۱۹/۱۲/۱۷

# کابل شاهان او لویکا ن

## (له زابلستانه ترویهنده)

کابل شاهانو د غزني له لویکانو سره د خپلوي اړیکي درلودلې خو کله چې الپتګین (۲۵۱هـ ۹۶۳ز) د یوه لښکر په مشرۍ په غزني برید وکړ د لویکانو مشرلاویک(ابوبکر انوک) ته یې ماته ورکړه.
ډیرځله د اټک د نوم سره یوځای (ویهند) یادونه هم کیږي او ریښتیا هم چې دغه لرغونې سیمه په تاریخ کې وړ ځای لري او د اټک په څېر دغه سیمه هم د هند دروازه ګڼل شوې ده.
د افغانستان د تاریخي جغرافیې څرنګوالي په کتاب کې راغلي دي: «کله چې کابل شاهانو له صفاریانو او غزنویانو نه ماتې وخوړه نو بیا له کابل نه ویهند ته لاړل.تر هغې چې د اسلام دین دلته نه وو خپور شوی د ویهند واکمن کابل شاهان وه، چې وګړي یې د بودایي او برهمني مذهب پلویان او پیروان وو».
کله چې د اسلام لښکرې لومړی کابل او بیا تر ویهنده (۱۵۲هـ ۷۶۹ز) پورې ورسېدې. (د کابل او سېند له لارې د مسلمانانو لښکرې هند ته ننوتلې دي) د ګندهارا یوه مهمه پلازمېنه ویهند یې وینو ...،د الفستین له انده چې د هند په تاریخ کې هم یادونه شوې ده (۲۶۰ مخ) وایي کله چې سېند مېشتو عربو د ځایي اوسېدونکو له وېرې افغانانو ته پناه یووړه نودوی یې له بریدکوونکو نه وژغورل ، دا هغه مهال دی چې محمد بن قاسم د مرکزي حکومت په بلنه له سینده وتلی وه ،دا ځکه د عربو اړیکې د خلافت له پلازمېنې سره پرې شوې وې او مرکز په خپله بدمرغیو کې ډوب وو.
د پښتنو د واک او ځواک په اړه چې په دغه سیمه کې یې درلود میرغلام محمد غبار کښلي دي: «د راولپنډي، اټک او جیلم تر مینځ چې ګنداري پښتانه ودان وو، نو دغه وخت کې ویهند د ګندهاره یوه نامتو پلازمېنه وه او د غه وګړي د اسلام د سپېڅلي دین له خپرېدو د مخه دلته مېشت او ودان وو...
همدا ډول له دې سربېره د ګندهارا د هېواد په اړه او د مېشتو افغانانو په تړاو په یاد شوي کتاب کې دا هم راغلي دي: د ګندهارا د سیمې د اټک دواړه غاړو ته د اوسېدونکو افغانانو په لړ کې یو هم دلازاکیان وو. چې ددغو پښتنو یوه څانګه د اسلام د دین له خپرېدو د مخه دلته استوګنه وه .
اوس هم دغه وګړي په پښتو ژبه ګړېږي، ولې له بده مرغه چې د برهان سیمې اوسېدونکي چې په خټه پښتانه دي زما د معلوماتو له مخې چې دغې سیمې ته ورغلی وم اوس په پښتو ژبه نشي ګړېدلی خوپه دې ویاړي چې دوی پښتانه دي.
د تېرو خبرو په تړاو ویلی شو چې همدغه لامل وه چې ګڼ شمېر افغانان په دغه سیمه کې د یوه ځواکمن ټبر په توګه موجود وو، چې په تاریخي او ملي کارنامو کې ونډه درلوده او په ټولنیزو چاروکې وړ ځای ترلاسه کړی وه.
د ویهند او ملتان پادشاه، راجه جیپال او پښتانه
د دغې سیمې په دغه ټاکلي پړاو کې یو نامتو واکمن راجه جیپال وو، د ده د واکمنۍ په مهال افغانا نو په ویهند او ملتان کې دومره شتون درلود چې په سیمه ییزو پېښو کې یې ټاکلی ځای درلود.
همدا لامل وه چې د غزني تګیانو د بریدونو په وړاندې ودرېدل او بیا یې په کلکه له راجه جیپال نه وغوښتل چې د تګیانود تېریو مخه په ټینګه ونیسي چې نور پښتانه ونه ځپي. یا له ملتانه راواخله تر ویهنده او له اټکه نیولې تر لغمانه پورې واک دوی ته وسپاري.
راجه جیپال چې ولیدل له یوې خوا د تګیانو بریدونه دي او له بلې خوا د پښتنو ټینکاردی چې دی باید د دغې پراخې سیمې امنیت ټینګ کړي. نو د خپلې بېوسۍ له بابته دېته اړ شو چې د واک لمن د کشمیر او د پنجاب نورو سیمو ته وغوځوي او دغه سیمه له ملتانه راواخله تر لغمانه پورې پښتنوته پرېږدي.«موږ په فرشته کې لولو ؛ا ټوک ۲۹ مخ



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

۷۶۶ م کال ... ؛جيپال چي د غزنويانو قدرت سره مخامخ شوی وه نو بيايي افغانانوسره پرېکړه وکړه چي په لغمان کې مېشت شي...چي بيا تر پېښور راغلل... او په خيبر کې کلا جوړه کړه«.
پښتانه مشران په خپلو کې جرګه شول او يو له بل سره اړيکې ټينګې کړې او د بېلابېلو خېلونو او قومونو مشرانو پرېکړه وکړه چي د خپل نامتو مشر شيخ حميد لودي په شاوخوا را ټول شي ...که څه هم پوهاند ډاکتر محمد حسن کاکړ په خپل يو کتاب کې داسې کښلي دي:
»کله چي د سبکتګين لښکرو دغه سيمه لاندې کړه شيخ حميد يې د ملتان والي وټاکه«.
حال دا چي پښتنو دغه جرګه د يوه منظم تشکيل لپاره دتګيانو  د بريدونو د مخنيوي لپاره جوړه کړې وه ولي پوهاند عبدالشکور رشاد د «حيات سلطان محمود» کتاب د دوه سوه دريم (۲۰۳) مخ په حواله په خپل نامتو کتاب لودي پښتانه کې ليکلي دي:
»د څلورمې هجري پېړۍ په نيمايي کې د «روه» او کسي غره لمر ختيځ پلو ته د راجه جيپال پادشاهي له کشميره څخه د ملتان د پاچهي تر سرحده او له چنابه څخه تر کابل يا لغمانه پورې را اوږد شوی او پايتخت يې ويهند وو.»
که چېرې د پوهاند رشاد خبره منو نو بيا خو د فرشته ياده شوی سنه چي ګني جيپال په ۷۶۶ ميلادي کال پښتنو سره جوړه وکړه دتا مل  وړده .خو لودي مشرانو نيمه (۵۰ کاله) پېړۍ په ملتان او د ملتان شاوخوا سيمو حکومت وکړ چي بنسټ يې د شيخ حميد لودي لخوا ټينګ شوی وه. د لوديانو حکومت د افغانستان د ټولواک غزنوي سلطان محمود (۳۸۷ – ۴۲۱) لخوا په ۴۰۱ هـ کال ړنګ شو.
ديوهاند کاکړدا خبره راته د تامل وړ ښکاري چي شيخ حميد لودي ګني د سبکتګين لخوا ټاکل شوی، داځکه چي پښتنو راجه جيپال دېته اړ کړی وه چي پښتنو ته واک وسپاري .په همدې بنسټ راجا په دې سلا شو چي له ملتانه ترلغمانه د ټول روه او د کسي غره سيمې د پښتو منلي مشر شيخ حميد لودي په غاړه واچوي. وروسته پېښو دا وښوده چي حقيقت همداسې وه نوځکه غزنوي محمود په بې رحمۍ دوي دومره وځپل چي په هغه مهال کې ساری نلري. هغه دا چي سلطان محمود دومره خپله توره په دغو پښتنو وچلوله چي لاس يې د وينو له بابته د توري په موټي سريښ شوی وه بيا يې د تودو اوبو په اچولو لاس له توري جلا شو.
د افغانانو د واکمنۍ بله پلازمېنه :
که څه هم لودي مشر شيخ حميد له الپتګين نه وروسته د يوه ليک په ترڅ کې له سبکتګين نه وغوښتل چي د ملتان په واکمنۍ بريدونه ونکړي دا ځکه چي دواړه لوري پوځونه مسلمانان دي.
سبکتګين د ده د ليک هرکلی وکړ او د سلطان محمود تر واکمنۍ پورې لودي پښتنو سلطان نصر لودي(د شيخ حميد زوی) او سلطان داود لودي (د نصر لودي زوی) د شيخ حميد پاچاهي وساتله. خو کله چي دغه واکمنی پای ته هم ورسېده، افغان نوابانو د هند د نيمې وچې يو شمېر سيمې پخپله ولکه کې وساتلې.
له ملتان نه پرته د افغانانو د واک نورې سيمې د زابل نه را واخله تر کيسي او بيا د سليمان غره شاوخوا پورې وې .د پښتنو دغه مرکز هم دومره پياوړی وه چي تر دېره يې خپله کورنۍ واکمني ساتلې وه، د پښتنو دغه لرغوني سيمه د افغانستان په لرغوني تلريخ کې د سليمان يا کسي غرو هغه پراخې لمنې دي چي اوږدوالی يې د شپږ سوو کيولو مترو شاوخوا کې اټکل شوی دی.
په دغه لرغوني سيمه کې له ډېرې پخوا نه يو شمېر بېلابېل پښتانه قومونه او خېلونه ودان دي.
د ملتان لودي پښتانه په سر کې شيخ حميد لودي، نصر لودي، شيخ رضي لودي، داود لودي، سليمان لودي، ملک شاهو لودي او په سلګونو نور، همدا راز له کلات نه نيولې تر سليمان يا کيسي غرو لمنو پورې چي کوم پښتانه لويان اوشيخان واکمن وو شيخ بيټنی او د ده د کورنۍ غرې، غرغښت، سړبن او د دوی زوزات د بېلګې په توګه يادولی شو.
دغه پښتانه مشران نه يوازې د ملتان پورې پښتنو، د کسي او سليمان غرونو په شاوخوا کې د استوګنو پښتنو پلرونه ګڼل کېږي. همداراز د غور د غرونو په شاوخوا کې د مېشتو پښتنو نيکونه هم ګڼل شوي دي.
د دغو پښتنو قومونو په لړ کې يو هم د غور سوري پښتانه وه چي له اسلام نه د مخه وګړي د «زوري» په نوم هم يادېدل. د هرات شمال لوېديځ پلو ته د بادغيش شاوخوا سيمو کې استوګن وه.
د افغانانو د واکمنۍ دريمه پلازمېنه:
د افغانانو د واکمنۍ او استوګنې دريم مرکز د مارګينا سيمه وه (مروه يا مرغاب) چي د اسلام له سپېڅلي دين نه د مخه دلته سوري ټبر چي د لودي (درواېتي شجرې له مخې) زوزات ګڼل کېږي واکمن وو.
دوی نه يوازې په يادې شوې سيمې واک چلولی دی، بلکې د خراسان په څنو سيمو، هرات، تخارستان، د غور په غرونو کې د واک څښتن وو او د (غرشاه) په نوم يادېدل.
دوی لومړی په ماهويانو او وروسته په شنسبيانو ياد شول. د دوی ځای ناستی سوري فولاد او بيا امير کروړ ډېر مشهور شول.
فردوسي د ماهوي سوري او د (زوري) بت يادونه هم کړېده. هيون څنګ (په ۶۰۳زکال )دغه بت د (شونا) په نوم ياد کړی دی چي سترګې يې د ياقوتو وې او وزن يې (۱۸۰) کيلو ګرامه سرو زرو ته رسېده.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د دغو وګړو په اړه يو شمېر څېړونکو کښلي دي.«له اسلام نه د مخه دغه کهاله د تخارستان، غور، هرات او د خراسان په غرو کې حکمراني کوله او د غرشاه په لقب يادېدل. د دې کهول لرغونی افسانوي شخصيت (ضحاک) دی... د تاريخ سوري په حواله سهاک ګڼلی شي¬«.
د سوري ټبر يو بل مشر د خرنک زوی شنسب (د شين اسپ په نوم هم ياد شوی) دی. د منهاج السراج په روايت د فخرالدين مبارک شاه د نسب نامې نومي کتاب په حواله نوموړي د حضرت علي(رض) په مهال د اسلام دين ومانه او بيا د خليفه لخوا دغه ټبر ته بيرغ ورکړ. نوڅکه تاريخ پوهان وايي چې د غور لومړنی پادشاه شنسب دی.
د شنسبيانو د کورنۍ واکمنو په بېلابېلو په مروې، غور، باميانو، تخار او يو شمېر نورو سيمو کې حکومت کړی دی.
امير پولاد غوري د ده له زامنو څخه دی چې د غور په شاوخوا سيمو يې واک چلولی او ان د ابو مسلم مروزي ملاتړ ته يې هم ور دانګلي وو. د ده د حکومت پلازمېنه د غور منديش.
امير کروړ چې د پښتو ژبې پياوړی شاعر هم وه او په ۱۵۴ لېږديز کال چې د۸۰۰ زېږديز کال سره برابر وه د پوشنګ په جنګ کې ومړ او له ده وروسته بيا زوی يې امير ناصر په غور، بست، زميناور او يوشمېر نورو سيمو حکومت کړی دی.
منهاج السراج د دې کورنۍ د يوه بل واکمن يادونه هم کړېده چې هغه (بنجي) د نهاران شنسبي زوی ګڼل شوی دی او د هارون الرشيد (۱۷۰هـ ۷۸۶ز) معاصر وه.
د صفاريانو د واکمنۍ په مهال د شنسبيانو د کورنۍ بل امير چې د غور په بنديش کې واکمن وه امير سوري نومېده. نوموړي ورو ورو د خپل واک لمن تر غزني پورې پراخه کړه، ولې کله چې سبکتګين څواکمن شو نو بيا يې په غور بريد وکړ ولې بيا هم د سوريانو کورنۍ واکمني خوندي وه.
د سلطان محمود غزنوي د واک په مهال د غور امير محمد سوري وه. ولې د سلطان د بريد له مخې د «اهنګران» په کلا کې کلابند شو. په پای کې د سلطان په لاس کې پرېووت او له خپل زوی «شيش» سره غزني ته په لاره (۴۰۵ هـ ـ ۱۰۱۵- ۱۰۱۴) ګيلان ته په څېرمه يې زهر وخوړل او ساه يې ورکړه.
غزنويا نو د افغانانو په مرکزونو (د غزني لويکان – د ملتان لوديان – د غور سوريان) مرګوني ګوزارونه وکړه او ډېر افغانان يې ووژل، ولې بيا هم د دوی واک او ځواک يې اوبه نشو کړی .دا څکه چې د سلطان محمود او په ټوله کې غزنويانو د واکمنو په لښکرو کې بيا هم ډېر شمېر افغانان وه.
وايي هغه مهال چې غزنوي محمود په سومنات بريد کاوه نو د مور په سپارښتنه يې د لښکر ډېری وګړي پښتانه وه. پښتنو د کميسونو لمنې په خپلو کې غوټه کړې او سومنات يې لاندې کړ.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ